بسم الله الرحمن الرحیم

# د ازاد افغانستان د ملی تفاهم د تحقق دټولنې احتجاج لیک

د ۱۳۸۹ کال د چنګابښ ۲۱
کابل – افغانستان

---

د ګران هیواد ازاد او خپلواک افغانستان ولسونو، دینی علماو، سیاسیونو، فرهنګپالو او د سیاسی او ټولنیزوچارو قدرمنو فعالینو٠

اسلام علیکم ورحمت الله و برکاتو٠٠٠

په ډیر تاثر سره مو د ملی او نړیوالې میډیا د لارې د افغانستان دویشلو زړه بګنونکې وړاندیز چې په هندوستان کې د امریکې دپخوانې سفیر (رابرت بلک ویل) لخوا دامریکې دولت ته وړاندې شویدی تر لاسه کړو ٠
ددغه ظالمانه او غیر واقعبینانه وړاندیز په وړاندې دغه غبرګن هغه سمه یزو او نړیوالو قوتونو غوږونه ته رسوو، چې پدغه ۲۱ پیړې کې دازاد او خپلواک افغانستان د ویش خوبونه په سرکې ګرزوي٠
دافغانستان متدینه او په اسلامی او افغانی غرورسمبال ولس د تاریخ په اږدوکی د رنګارنګ توطیو، دسیسو او ناخوالو سره مخامخ شویدې خو هیڅ کله هم نه ددئی جغرافیۀ داخلی نادانه دښمن، او نه ددغي سپځلې خاورې بهرنې دښمن دداسی یو غیر واقعبینانه وړاندیز دیادونې جرائت هم حتا ندي کړي٠
دا چې نن مونږ افغانان دخپلو بی اتفاقیو او خود خواهي و په اورنو کی سوزو نو زمونږ د جغرافیۀ دښمنانو دا جرائت ځان ته ورکړې دي ، چې داسی خبرې د خلکو د اذهانو د پاشلو لپاره د اصلی ستونزځخه بل لورې ته کړې، سره لدې چې داسی بی اساسه او بی

بنیاده خبرې هیڅ کله کوم عملی اړخ نلرې.  خو پدې باید ټولې هغه بهرني او کورنې کړي چی داسی  غیر واقعبینانه  او بی مسولیته فکرونه په سرکی لرې پوه اوسې چی د دی خاورې د ټولواقوامو اواقشارو اصیل بچیان او ددی ټاټوبی ټول اوسیدونکې ددی ټاټبی ساتوونکی دي او تل به وي اناشاالله.
هیڅ زبرځواک ددئ توان ، همت او قدرت نلرې چی دي خاورې ته په ټیټه وګورې.
دګران هیواد ازاد او خپلواک افغانستان د ویش  وړاندیزونه او په همدي ډول د داسی نورو بی اتفاقیوفکرنه په کلکه ردووه او  غندنه ئی کوو.

دافغانستان د دولت څخه په کلکه غوښتنه کووه چی ددغه  دیپلومات څخه د نړیوالو قوانینو په رڼا کی تفصیلات وغواړې او ددغه  وړاندیز په هکله د افغان ولس او دولت څخه  دغه دیپلومات (رابرت بلک ویل)  بخښنه وغواړې.

د هیواد دننه او د هیواد څخه بهر  په ټولو  سیاسی احزابو، ټولنیزو ټولنو، خپلواکه شخصیتونو، ویب پاڼو او مطبوعاتو باندې غږ کوو تر څو ددغه خاینانه وړاندیز په وړاندې خپل انزجار او احتجاج ښکاره کړې تر څو چی د داسی ناخوالو مخه په خپل وخت سره ونیول شې  او دتکرار څخه ئی هر څوک ډډه وکړې.
د ازاد افغانستان د ملی تفاهم  د تحقق  ټولنه زیار باسی چی خپل دغه   احتجاج لیک ملی ا و نړیوالو مسولو  مراجعو ته وړاندې کړې ، او داړتیا په صورت کی
به ددغه دیپلوات دوړاندیز  په غبرګون کی د یووي   سوله ایزه مظا هره بند او بست وکړې.

په درنښت
د ازاد افغانستان د ملی تفاهم  د تحقق  دټولنې  مشرتابه هیت